**د افغانستان اسلامي امارت**
**د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت**

**امارت اسـلامی افغانستان**
**معاونیت اقتصادی ریاست الوزراء**

***Islamic Emirate of Afghanistan***

**د اقتصادي کمېسیون دارالانشاء**

## د اقتصادي کمېسیون د لومړۍ غونډې مصوبه

**محرم ۱۴۴۴**

د اقتصادي کمېسیون د ۱۴۴۴ هـ.ق کال لومړۍ غونده، چهارشنبه د ۱۴۴۴ هـ.ق کال د محرم ۱۲ مه (د ۱۴۰۱ هـ.ش کال د زمري ۱۹مه) د ماسپښین پر(۲:۰۰) بجو په مرمرینه ماڼۍ کې د قرآن عظیم‌الشان مبارکو آیتونو په تلاوت سره پیل شوه. غونډې د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال او اقتصادي کمېسیون د رئیس ملا عبدالغني برادر آخند په مشرۍ دوام وکړ.

**په غونډه کې له هر اړخیزو بحثونو وروسته، لاندې پرېکړې وشوې:**

| شمېره | پرېکړې | تعلیق کوونکی | وخت |
|---|---|---|---|
| **لومړی موضوع:** د ښاروالیو عمومي ریاست د غزني ولایت د درېیم پلان په ساحه کې له شنې ساحې څخه رهایشي او یا تجارتي ساحې ته د ۴ جریبه او ۷ بسوې ځمکې د تعدیل غوښتنه کړې ده. د ریاست الوزراء عالي مقام د موضوع په اړه د کمېسیون نظر غوښتی دی. | | | |
| ۱ | د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت د عامه اړیکو د رئیس ملا ولي جان په مشرۍ د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ او ښارجوړولو وزارتونو او د ښاروالیو عمومي ریاست ګډ پلاوی دې د غزني ولایت د درېیم پلان په ساحه کې له شنې ساحې څخه رهایشي او یا تجارتي ساحې ته د ۴ جریبه او ۷ بسوې ځمکې ستونزه له ټولو ښکیلو خواوو سره په دقیقه او هراړخیزه توګه وڅېړي، د حل یوه مناسبه لاره دې ورته ومومي او اقتصادي کمېسیون ته دې وړاندې کړي چې وروسته به د ریاست الوزراء له عالي مقام سره شریکه شي. | مؤظف پلاوی | دوه اوونۍ |
| **دویمه موضوع:** د ښاروالیو عمومي ریاست غوښتنه کړې چې د ښاروالیو په اړوندو ښاري دروازو کې د باروړونکو موټرو د ښاري خدمتونو محصول د ټولولو اړوندې چارې دې بېرته ښاروالیو ته وسپارل شي. د ریاست الوزراء عالي مقام د موضوع په اړه د اقتصادي کمېسیون نظر غوښتی دی. | | | |
| ۲ | په چارو کې د شفافیت، اسانتیا او چټکتیا په موخه، د ښاروالیو په اړوندو ښاري دروازو کې د باروړونکو موټرو د ښاري خدمتونو محصول دې د اوس په څېر د مالیې وزارت اړوندې څانګې ټول کړي. په راتلونکي کې که اړتیا وه، پر دې موضوع به بیا غور وشي او لازم اجراآت به تر سره شي. | وزارت | عاجل |

د افغانستان اسلامي امارت
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت
د اقتصادي کمېسیون دارالانشاء
Economic Commission Secretariat
Islamic Emirate of Afghanistan

د افغانستان اسلامي امارت
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت

امارت اســـلامی افغانستان
معاونیت اقتصادی ریاست الوزراء

*Islamic Emirate of Afghanistan*

**د اقتصادي کمېسیون دارالانشاء**

| | | | |
|---|---|---|---|
| **درېیمه موضوع:** مصطفی صادق عظیمي سوداګریز شرکت غواړي په شهر نو پارک کې د عامه او خصوصي مشارکت یوه طرحه عملي کړي. شرکت وايي چې طرحه یې له کابل ښاروالۍ او نورو اړوندو ادارو سره شریکه کړې ده. | | | |
| ۳ | د صنعت او سوداګرۍ وزارت د سرپرست په مشرۍ د ښارجوړولو، اقتصاد او مالیې وزارتونو، د چارو ادارې لوی ریاست او کابل ښاروالۍ ګډ پلاوی دې د مصطفی صادق عظیمي شرکت له خوا د کابل شهر نو پارک د جوړولو طرحه په دقیقه او هراړخیزه توګه وڅېړي او خپل وړاندیزونه دې اقتصادي کمېسیون ته وړاندې کړي. | ګډ پلاوی | دوه اوونۍ |
| **څلورمه موضوع:** د صنعت او سوداګرۍ وزارت اقتصادي کمېسیون ته په رالېږلې لیک کې وايي چې د هرات په اسلام کلا بندر کې د افغان سوداګرو د تېلو سلګونه ټانکرونه ولاړ دي. سوداګر وايي تیل یې د افغانستان له سټنډرډ سره لږ توپیر لري او د ټانکرونو دربدا له ګڼو ستونزو سره مخ کړي دي. | | | |
| ۴ | - د صنعت او سوداګرۍ وزارت په مشرۍ، د مالیې او عامې روغتیا وزارتونو او چاپېریال ساتنې ادارې له خوا دې یو تخنیکي پلاوی وټاکل شي چې د نورم او سټنډرډ ادارې د معیارونو په پام کې نیولو سره د یادې ستونزې د حل لپاره په بندرونو کې د نفتي موادو د ټسټ بهیر وڅاري او د خپلو اجراآتو رپوټ اقتصادي کمېسیون ته وړاندې کړي.<br>- د نفتو او ګاز دولتي شرکت او خصوصي شرکتونو تر منځ د مشارکت د رامنځ ته کولو لپاره دې یوه هراړخیزه کړنلاره جوړه شي. | - تخنیکي پلاوی<br>- د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت او د نفتو او ګاز دولتي شرکت | عاجل |
| **پنځمه موضوع:** د صنعت او سوداګرۍ وزارت وايي چې په ځینو ولایتونو کې سیمه ییز مسؤولین پرخپل سر بندرونه تړي او د بېلګې په توګه یې په نیمروز کې له ایران سره پر پولې د میلک بندر یادونه کړې ده. وزارت د دغه راز چلند مخنیوی غواړي. | | | |
| ۵ | د مسئلې اهمیت ته په کتو او د یو دایمي حل په موخه دې یاده موضوع د ا.ا.ا د کابینې غونډې ته وړاندې شي. | د صنعت او سوداګرۍ وزارت | عاجل |
| **شپږمه موضوع:** د کانونو او پترولیم وزارت د ټاپي پروژې مشرتابه پلاوي ته د ا.ا.ا د صلاحیت لرونکي استازي د معرفي کولو وړاندیز کړی دی. | | | |
| ۶ | - د کانونو او پترولیم وزارت دې د ټاپي پروژې له شریکو هېوادونو سره د اړیکو له لارې دا جوته کړي چې د افغانستان له خوا د پروژې مشرتابه پلاوي ته په کومه سطحه استازی معرفي شي. یاد وزارت دې په دې اړه خپل معلومات د اقتصادي کمېسیون راتلونکې غونډې ته وړاندې کړي.<br>- د ټاپي پروژې اهمیت ته په کتو، د کانونو او پترولیم وزارت دې د دغې پروژې د تطبیق د څرنګوالي په اړه اقتصادي کمېسیون ته رپوټ ورکړي. | د کانونو او پترولیم وزارت | عاجل |

د افغانستان اسلامي امارت
د ریاست الوزرا اقتصادی معاونیت
د اقتصادي کمېسیون دارالانشاء
Economic Commission Secretariat
Islamic Emirate of Afghanistan

**د اقتصادي کمېسیون دارالانشاء**

| | | | |
|---|---|---|---|
| **اوومه موضوع:** د بخش آباد بند د مالي او تخنیکي چارو په اړه د اقتصادي کمېسیون د پرېکړې له مخې د ټاکل شوي پلاوي د اجراآتو رپوټ | | | |
| ۷ | د اوبو او انرژۍ وزارت دې د بخش آباد بند د تخنیکي او مالي چارو په اړه د اقتصادي کمېسیون راتلونکې غونډې ته هر اړخیز رپوټ وړاندې کړي. | د اوبو او انرژۍ وزارت | عاجل |
| **اتمه موضوع:** بهر ته د زړې اوسپنې د لېږد د بندېدو په اړه د اقتصادي کمېسیون تېرې پرېکړې ته بیا کتنه | | | |
| ۸ | د رنګه فلزاتو ستونزې د حل په موخه، د فلزاتو د صدور د مخنیوي او سوداګرو تر منځ د جوړجاړي پخوا ټاکل شوی پلاوی دې د یادې موضوع د حل لپاره بیا فعال شي او د سکټور د غړیو په مشوره دې د رنګه فلزاتو ستونزه په بنسټیزه بڼه حل کړي او د خپلو اجراآتو رپوټ دې اقتصادي کمېسیون ته وړاندې کړي. | پخوا ټاکل شوی پلاوی | عاجل |
| **نهمه موضوع:** د بدخشان د فیض آباد ښار لپاره د برېښنا د لګښت د تعرفې په اړه د ټاکل شوې تخصصي کمېټې وړاندیز | | | |
| ۹ | د بدخشان ولایت مرکز فیض آباد ښار لپاره د اوبو او انرژۍ وزارت د تخصصي کمېټې له خوا د برېښنا ټاکل شوې تعرفه تایید ده. تعرفه له دغې مصوبې سره مل ده. | د اوبو او انرژۍ وزارت | عاجل |
| **لسمه موضوع:** د جاده یي ټرانسپورټ په ترمینلونو او تم ځایونو کې د نقلیه وسایطو فعالیت د مدیریت، ترتیب او تنظیم طرحه کې تعدیلات | | | |
| ۱۰ | د جاده یي ټرانسپورټ په ترمینلونو او تم ځایونو کې د نقلیه وسایطو فعالیت د مدیریت، ترتیب او تنظیم طرحه، چې د ټرانسپورټ او هوایي چلند وزارت له نویو تعدیلاتو سره وړاندې کړې، تایید ده. طرحه له دغې مصوبې سره مل ده. | د ټرانسپورټ او هوایي چلند وزارت | عاجل |

**الحاج ملا عبدالغني برادر آخند**

**د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال**

**او د اقتصادي کمېسیون رئیس**